PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

۸۷۳

لسم کال - دویمه دوره، ۸۷۳ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۴۰ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د وړي ۲۹ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۱۱ مه ۲۰۱۰ د سپتمبر ۲۰ مه

فیفا هم ومنله چې د ولسي جرګې په ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې

د افغانستان د ولسي جرګې په انتخاباتو کې ځيني ځارونکي ډلې وايي، د ولسي جرګې په انتخاباتو کې پراخې درغلۍ شوي دي چې دوی يې په اړه خبرې نې کوي.

په داسې حال کې چې عام افغانان او ځارونکي د افغانستان د ولسي جرګې له انتخاباتو چې په نسبت ارامه فضا کې وشول، خوښي څرګندوي، خو وايي چې په دغو انتخاباتو کې له پراخو درغلیو اند ډبنمن دي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه انتخاباتو بنسټ يا فیفا د يکشنبې په ورځ وويل، چې د دوی ځارونکو د

۳مـــخ

دي مـيـسـتـورا :

لا وختي دی چې د ولسي جرګې ټاکنې بریالۍ وبولم



د وړي پـر ۲۷ نېټـه د ولـسي جرګې د دويم پړاو لپاره ټاکنې ترسره شوې، دا ټاکنې په ټول هېواد کې پر يوه مهال پيل او پای تـه ورسېدې، خـو لـه دې سره جوخت د هېواد په مرکز سربېره په ټولو ولايتونو کې د پراخـو درغلیـو خبرونـه او راپورونـه ورکـړل شـول. پـه همدې ترڅ کې د دغو ټاکنو د پايلو په اړه د افغانستان لپاره د ملګرملتـو ځـانګړي اسـتازي سـټېفن دي مـيـسـتورا پـرون وويـل، لا وختـي دی چـې د افغانـسـتان د ولـسي جرګـې انتخابات بريالي وبولي او بايد ترهغو صبر وکړي چې د اچول شـويو رايـو وروسـتی شـمېر څرګند شي او ټول شکايتونه واورېـدل شـي. دي مـيـستورا پـرون وروسـتـه لـه دې چـې د افغانـسـتان د انتخابـاتـو خپلـواک کمېسيون د وړمې ورځې انتخابات بريالي وبلل، رويټرز خبري اژانس ته وويل: «له ټول درناوي سره سره چې د دوی ستر کار ته يې لرم، زه به ترهغو د انتخاباتود بريالیتوب په اړه څه نه وايم.» خو رايه ورکوونکي، د انتخاباتو مقامات او ځارونکي وايي چې په انتخاباتو کې له هر نظره درغلـي شـوې، جعلي کارتونـه او رايـې اچولي، مختلف رنګونه کارول شـوي چـې ځينـې ډولونـه يـې پـه اسـانه پاکېـدل، ځينـو زورورو کانديـدانو پـه بدماشـي رايـې اخيستي او په ځينـو مواردو کې صـندوقونه مخکـې تـر مخکـې د خاصـو کانديدانو لپاره ډک کړای شـوي دي. د افغانستان لوېديځو ملاتـړو او همـداراز

۳مـــخ

يـوه ولـسوالي او درې رايـې!!!

د غزني په ترڅ نا ارامه ولسوالۍ اندړو کې په ټولو ۲۵ ټاکنيزه [illegible] کې يوازې درېيو تنو خپلې رايې کارولې دي. [illegible] کې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د سيمه ييز دفتر مشر عبيدالله عثماني وايي، چې مرکزونه پرانېستي وو، خو د خلکو ګډون د هغوی خپل کار دی.

نومورې دوړي پر ۲۸مه وويل، چې په اندړو کې د ټولو ټاکنيزو مرکزونو د امنيت نيونې لپاره پوليس او د ملي اردو سرتېرې ګومارل شوي وو، خو بيا هم خلکو ګډون ونه کړ. په اندړو کې د ټاکنو د دفتر استازی حميد جان وايي، چې د ناامنۍ له امله په ټوله ولسوالۍ کې يواځې درې کسان وتوانېدل، چې خپله رايه وکاروي.

نومورې وويل، چې ورځې يې ټوله ورځ په ولسوالۍ کې تېره کړه، سره له دې چې ټاکنيز مرکزونه پرانېستي وو، خو خلکو له وېرې په ټاکنو کې ګډون ونه کړ.

د اندړو ولسوالۍ د غزني سوېل لوري ته په ۲۴ کيلومتری کې پرته ده، د دې ولسوالۍ نفوس پنځه کاله وړاندې ۳۴۰ زره کسان وو، خو يوازې اتيا زره تنو د ټاکنو کارتونه اخيستي وو. د اندړو ولسوال شېرخان يوسفزی، په دې چاره کې ټوله ملامتيا د ټاکنو پر کارکوونکو اچوي او زياتوي، چې دې کسانو د يوه ځانګړي کانديد په پلوۍ کار کاوه، خو ده يې مخه نيوله. نومورې پر دې کسانو تور ولګاوه، چې خرڅ شوي وو او په زرګونو کارتونه يې له ځان سره راوړي وو، چې د يوه ځانګړي کانديد په ګټه يې وکاروي. يوسفزي د هېڅ کانديد نوم وانه خيست، خو زياته يې کړه، چې په دې اړه به شکايتونه ثبتوي او وروسته به دغه راز افشا کړي. په ورته توګه په يوه بله ناامنه قره باغ ولسوالۍ کې هم، ورته ستونزه رامنځ ته شوې او د ټاکنو ټول بکسونه تش راغلي دي.

د قره باغ ولسوال محب الله خپلواک وايي، چې د کانديدانو د ځارونکو او د ټاکنو د دفتر د کارکوونکو ترمنځ پر يو بل د بې باورۍ له امله ستونزه رامنځ ته شوه. خپلواک پژواک اژانس ته وويل، په پام کې وه، چې په دې ولسوالۍ کې ټول ۲۵ ټاکنيز مرکزونه پرانېستل شي، خو د رايو ټول صندوقونه په ولسوالۍ کې سر ترلې پاتې شول او تش يې مرکز ته راولېږدول.

د ولسي جرګې يو کانديد او د اندړو ولسوالۍ اوسېدونکی ډاکټر غني بهادري، ناامني د دې کار لامل ګڼي، خو دا هم وايي، ځينو کسانو غوښتل چې د ځانګړيو کانديدانو لپاره کار وکړي، خو دوی يې مخه نيولې. هغه زياتوي: ((بايد همداسې شوي واى، ځکه عامو خلکو له وېرې ګډون نه شواى کولى او د ځانګړو نوماندانو په ګټه د بکسونو له ډکولو مخه

۳مـــخ

کـرزي چـاتـه رايـه ورکـړه؟

مېرمني يې ولې په ټاکنو کې ګډون ونه کړ؟



رويټرز خبري اژانس د جمهوري رياست په مانۍ کې د دوو سرچينو له قوله وايي چې ولسمشر کرزي وړمه ورځ خپله رايه يوې هندومذهبې کانديدې ته ورکړه. د افغانستان د ولسي جرګې د ۲۴۹ چوکيو لپاره په څه باندې دوه نيم زره کانديدانو کې يوازې دوو هندوانو ځانونه کانديد کړي دي.

د جمهوري رياست په مانۍ کې دوو مقاماتو رويټرز خبري اژانس ته ويلي چې ولسمشر کرزي خپله رايه انارکلي هنريار ته ورکړې ده. انارکلي هنريار د افغانستان د بشري حقونو د کمېسيون غړې ده. رويټرز خبري اژانس وايي چې په ولسي جرګه کې د کابل د ۳۳ چوکيو لپاره په شپږسوه کانديدانو کې يوې غيرمسلمانې ته د افغانستان په مذهبي او محافظه کاره ټولنه کې د کرزي

۳مـــخ

همايون عزيزي په پارلماني چارو کې د دولت وزير وټاکل شو

د دولت او ملي شورا ترمنځ د اړيکو دلا ټينګښت په مقصد، په پارلماني چارو کې د دولت نوی وزير وټاکل شو. د افغانستان د جمهور رييس حامد کرزي د يوه نوي فرمان له مخې، ډاکټر همايون عزيزي، د يکشنبې په ورځ پارلماني چارو کې د دولت د وزير په ټوګه په کار پيل وکړ.

په دې مناسبت په کابل کې د کابينې او ملي شورا د يوشمېر غړو په ګډون يوه ناسته جوړه شوې وه.

په پارلماني چارو د دولت نوي وزير ډاکټر همايون عزيزي وويل، دی به هڅه وکړي، چې ورسپارل شوې دنده په پوره صداقت سره پرمخ بوځي: "مور ژمنه کوو، چې په صادقانه هلو ځلو، دولت او پارلمان يو د بل مخه ونه نيسي. هڅه کوم چې په وزارت کې کاري ظرفيتونه لوړ کړم ترڅو چارې په ښه توګه او ګړندی

۳مـــخ

حملات امریکایی‌ها به مناطق مسکونی؛

۱۰ کشته و چندین مجروح بر جا گذاشت

در میان کشته شده گان سه کودک نیز شامل می باشد

نیروهای امریکایی به پاسخ به حملات روز گذشتهٔ طالبان ۱۰ تن از افراد ملکی را در حملات دیروز خود به مناطق مسکونی به قتل رساندند. به گزارش فارس نیوز، نیروهای امریکایی به پاسخ به حملات روز گذشتهٔ طالبان به مراکز اخذ رای افغانستان، برخی مناطق را هدف حملات خود قرار دادند و ۱۰ غیرنظامی را به قتل رساندند.

فارس نیوز به نقل از شبکهٔ الجزیره با اعلام اینکه منابع آگاه در افغانستان به خبرنگار این شبکه اعلام کرده‌اند که تعداد کشته شده گان این حملات به ۱۰ تن رسیده، تصریح کرد که سه تن از کشته شده گان کودک بوده‌اند.

الجزیره با بیان اینکه این حمله به یک خانهٔ مسکونی صورت گرفته است، اعلام کرد که این حملهٔ خونین به خانه‌یی در

ص۳



پـخوانی او راتلـونکـی پـارلمان!

۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

د ولسي جرګې د ټاکنو مشروعیت، شکونه او اندېښنې

د ولسي جرګې د ټاکنو پـړه اړه چې وړمه ورځ ترسره شوې، نوې انګېرنې او ارزونې د رابرسېره کېدو په حال کې دي، تر دې مخکې، افغان چارواکو او یو شمېر نړیوالو دغه ټاکنې بریالۍ او په هغو کې د خلکو ګډون بې ساري بللې و، خو دا دی، د وخت په تېرېدو او د دې ټاکنو د بهیر په اړه د ازادو او بې پرو سازمانونو د څېړنو او ارزونو پر بنسټ، د دغو ټاکنو مشروعیت او سلامتیا د پراخو درغلیو او سرغړونو د شتون له امله، شبهه په شبهه کمرنګه کېږي. پرون تر دې لږه شبهه وروسته، چې یو شمېر نړیوالو چارواکو لکه د ملګرو ملتونو سرمنشي او د ناټو عمومي منشي د افغانستان د وړمې ورځې ټاکنې وستایلې او هغه یې بریالۍ وبللې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي دې مېستورا د دغو ټاکنو د بریالیتوب او سلامتیا په اړه شک څرګند کړ او زیاته یې کړه، چې لا وختي دی، چې د دغو ټاکنو د بریالیتوب او سلامتیا په اړه کره قضاوت وشي. همدا راز د فیفا سازمان (د افغانستان د خپلواکو او عادلانه ټاکنو سازمان) هم په دې ټاکنو کې د پراخو درغلیو شتون تایید کړی، او زیاته کړې یې ده، چې د افغانستان د ولسي جرګې په ټاکنو کې د درغلیو اندازه هومره زیاته وه، چې کولای شي، د یادو ټاکنو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي.

باید ووایو، چې اوس دا خبره ښکاره او کره شوې، چې د ولسي جرګې د وړمې ورځې په ټاکنو کې په بېلابېلو ډولونو بېلابېلې درغلۍ او تقلب شوی، دا خبره، اوس د انتخاباتو د شکایتونو د اورېدنې کمېسیون هم مني. د شکایتونو کمېسیون مسوولین وایي، چې په دې اړه دوی ته زیات شکایتونه رسېدلي. له دې نه اخوا، په بېلابېلو حوزو کې د ټاکنو خپلواکو ناظرینو او ځارونکو هم له دې موضوع سره هوکړه کړې، هغوی خو لا په همغه ورځ، یانې د ټاکنو د ترسره کېدو د ورځې په پای کې د ټاکنو د بریالیتوب او سلامتیا په اړه شک او اندېښنې درلودې. په هر حال، هغه څه چې مور ته تر هر څه زیات ارزښت لري، هغه د ټاکنو سلامتیا او د دې لوېې ملي پروسې د مشروعیت ضمانت دی، دا لومړی د دولت مسوولیت و، چې په ټاکنو کې د درغلیو د مخنیوي په موخه، لازمې لارې چارې تر لاس لاندې نیولې وای او دغه مهمې چارې یې په سمه توګه مدیریت کړې وای. اوس چې د دې ټاکنو مشروعیت هم پیکه ښکاري او دولت و نه شو کړای، چې په دې برخه کې خپل مسوولیت په سمه او مناسبه توګه ترسره کړي، دا چانس لا پاتې دی، چې ټاکنیزو شکایتونو ته د رسېدنې پر مهال، شکایتونو ته په رښتینې او جدي توګه رسېدنه وشي او عدالت په پام کې ونیول شي. دا هغه یوازېنی لاره ده، چې تر یو حده کولای شي، د دغو ټاکنو مشروعیت او شفافیت خوندي او د دولت لپاره د اوړو پوزه شي. زیاترو کارپوهان پر دې باور دي، که د مسوولو ارګانونو له خوا، ټاکنیزو شکایتونو ته په سمه توګه رسېدنه و نه شي او بیا هم واقعیتونو ته شا و ګرځول شي او مصلحتونو ته لومړیتوب ورکړل شي، اټکل کېږي، چې دا مسئله به د افغانستان پر روانو ناوریجنو حالاتو نور هم منفي اغېز وکړي او د هېواد اوسنی نازک او حساس وضعیت به لاپسې کړکېچن او خوړین کړي.

پـخوانی او راتلـونکـی پـارلمان!

روح الله وفا



تېر پنځه کلن پارلمان په هېواد کې له کورنیو ناخوالو وروسته لومړی هغه پارلمان و، چې د هېواد له ګوټ ګوټ نه په کې استازي راغلي وو او هغوی د خپلو سیمو او خلکو او د حکومت ترمنځ د پله حیثیت درلود. څرنګه چې دا په هېواد کې لومړنی تجربه وه بې شمېره ستونزې یې درلودې، که دا له غړو هم وپوښتل شي نو وبه وایي، چې تېر پارلمان د ډېرې نیمګړتیاوې درلودې. د ساري په توګه د تېر پارلمان غړیو خپل اکثره وخت د ناچیزو مسایلو په څېړلو تېراوه او د کار تر پایه یې همدا لاره نیولې وه. ډېر وخت به پر خپلو شخصي کارونو پسې وتلي وو او اداري چارې یې منظمې نه وې. د وزیرانو په ټاکنو کې سمتي، ژبنې او تنظیمي ... چلند هم کېده. داسې هم وه چې یو وزیر به یوه ورځ د ناکامۍ پولې ته ورسېد، خو سبا ته به بیا د رایو په غوڅ اکثریت سره بریالی شو. پارلمان په ګروپونو او ډلو وېشل شوی و او په ځینو غړیو باندې د بهرنیو سفارتونو له خوا پانګونه کېدله، چې د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره یې تري ګټه اخیسته. همدارنګه وکیلان د وزارتونو خاص مراجعین وو، چې د خپلو شخصي او فردي ګټو لپاره به وزارت په وزارت ګرځېدل، حتا تر دې چې ډېر کله خو به د دوی موټرونه د وزیرانو د کورونو په مخکې ولاړ وو. داسې خو هم وه چې ځینو وکیلانو د ځینو هېوادونو د ګټو لپاره کار کاوه. ځینې وکیلان نالوستي وو او د لیکلو او لوستو وړتیا یې نه لرله. کله کله خو به ملي ګټې او ملي مسلې د سمت او ژبې درناوي وځپلې. دې ته ورته نورې اساسي نیمګړتیاوې موجودې وې، چې په راتلونکې پارلمان کې باید ورته جدي پاملرنه وشي. څرنګه چې د پارلمان غړي د ولس استازي ګڼل کېږي، نو دوی باید په رښتني ډول او د کلیمې په مانا خپل ملي والی په پام کې وساتي. خپله ټوله پاملرنه هغو مسایلو ته واړوي، چې په رښتیا هم د ټول ولس او ټول افغانستان په ګټه وي. باید د سیاسي ډلو ټپلو تر ناسم اغېز لاندې را نه شي او نه هم په ملي مسایلو کې د سمتي، ژبنې او توکمي ناروا تعصبونو ښکار شي. د پارلمان غړي باید د کار له پیله پر بېلابېلو اساسي پلانونو کار وکړي، د ولس رایو ته له خپلو اوسنیو شعارونو سره سم د جګړو او غمیزو ځپلو هېوادوالو رښتینې او مخلصانه استازیتوب وکړي، د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ګټو ته ډېره پاملرنه وکړي او له حکومت سره د داسې پروګرامونو په پلي کولو کې مرسته وکړي، چې د ټول ملت او ولس لپاره ګټور پرېوځي. د پارلمان غړي باید تل ملي ګټې پر خپلو شخصي ګټو وړاندې وبولي. داسې یو ملي رییس وټاکي چې هر ملیت ته په درنه سترګه ګوري، په کار پوه، عالم او تکړه مدبر شخص وي او وکولای شي چې پارلمان داسې اداره کړي چې تېرې ترخې تجربې تکرار نشي.

آیا دومین انتخابات پارلمانی افغانستان موفقانه برگزار شد؟

نویسنده: احمد ارشاد خطیبی

دومین انتخابات پارلمانی افغانستان به روز شنبه ۲۷ سنبله ۱۳۸۹ خورشیدی در میان بیم و امید برگزار شد.

در این روز، شمار زیادی از هموطنان ما که واجد شرایط رای دهی بودند، در انتخابات شرکت کردند؛ اما برخی دیگر رای شان را به دلایل مختلفی استعمال ننمودند؛ زیرا در برخی از مناطق افغانستان، شرایط برای تدویر انتخابات مساعد نبود. طالبان و گروه های مسلح مخالف دولت بر این مناطق تسلط دارند که مبرهن است، به هیچ صورت برای مردم اجازهٔ شرکت در چنین پروسه ها را نمی دهند. از جانب دیگر، در برخی از مناطق افغانستان که نفوذ طالبان کمتر است، مردم از ترس حملات تهاجمی و تهدیدات احتمالی این گروه از شرکت در انتخابات باز ماندند. با این حال، در برخی از ولایت ها از جمله در کابل پایتخت کشور، شماری از مردم که با شور واشتیاق می خواستند، از حق رای شان برای گزینش نمایندهٔ دلخواه خود استفاده نمایند، به دلیل کمبود اوراق رای دهی از این حق مدنی بازماندند. من به حیث روزنامه نگاری که می خواستم، از جریان برگزاری انتخابات گزارش تهیه نمایم، به چندین مرکز رای دهی در شهر کابل رفته بودم و افراد زیادی را مشاهده کردم که ساعت ها در صف ایستاده بودند، تا رای دهند، اما با کمبود اوراق رای دهی مواجه شدند و از این سبب، سخت شاکی بودند. این مشکل تخنیکی در برخی مناطق کابل در چندین حوزهٔ رای گیری وجود داشت و از این بابت، شاهد درگیری های تند لفظی میان مراجعان و کارمندان کمیسیون بودم.

از ولایت های هرات، بلخ و غزنی نیز گزارش شده است که به همین دلیل، شمار زیادی از مردم موفق به استعمال رای شان نشدند که باید مسوولان محترم کمیسیون انتخابات در این باره پاسخ بگویند. از سوی دیگر، شمار چشمگیری از افرادی که می توانستند، در انتخابات حضور یابند، به دلیل نگرانی از تقلب گسترده و ناکارایی پارلمان آینده، روز برگزاری انتخابات به حوزه های رای گیری حضور نیافتند.

با این همه؛ در برخی از مناطق افغانستان، حضور مردم به ویژه زنان گسترده توصیف شده که بدون تردید برای آیندهٔ دموکراسی و حاکمیت قانون در کشور، با اهمیت است.

شماری از هموطنان با وجود تحریم انتخابات از سوی گروه طالبان، شایعات دربارهٔ تقلب سازمان یافته، کمبود مراکز و اوراق رای دهی و...مشتاقانه در پای صندوق ها رای حاضر شدند و هر کدام به نامزد وکیل مورد نظر خود رای دادند.

به دنبال برگزاری انتخابات، مقام های کمیسیون انتخابات، مدیران ارشد امنیتی و سخنگویان ص۳



کرزي چاته رایه...

رایه کېدای شي خپل ځینې پلویان خوابدي کړي.
د کرزي په خپلو ملاتړو کې یوشمېر زورور جګړه مارانو هم شامل دي، چې یا یې ځانونه کاندید کړي او یا یې خپل کسان کاندید کړي، مدراز نور محافظه کاران د ښځینه کاندیدانو او سیاستوالو مخالف دي او ګومان نه کېږي چې یوې غیرمسلمانې او هغه هم ښځې ته د کرزي په رایې خوشحاله وي.
انارکلي هنریار اصلاً د خوست اوسېدونکې ده او په تېرو دوو میاشتو کې د کمپاین په لړ کې ډېرو مسلمانانو هغې په ملاتړ کې هلې ځلې کولې.
د افغانستان په ټولنه کې ښځې، سره له دې چې په ولسي جرګې کې ۲۵ فیصده ونډه ورکړای شوې، په ټولو چارو کې په اقلیت کې دي. د ولسي جرګې د وروستیو انتخاباتو لپاره ۴۰۶ ښځې کاندیدې وې خو راپورونو له مخې دوی له راز راز ګوابنونو سره مخامخ وې.
د کرزي مېرمن هم د میلیونونو نورو افغانانو په شان د رای اچولو لپاره د انتخاباتو مرکز ته نه لاړه.
رویټرز خبري اژانس وایي چې البته زینت کرزی د امنیتي اندېښنو یا د ډېرو نورو خلکو په شان له فساد څخه د ستومانۍ له کبله نه، بلکې په بل دلیل په انتخاباتو کې ګډون نه دی کړی.
د تاند د راپور له مخې، ولسمشر کرزي یوې انتخاباتي کارکوونکې ته وویل چې د دوی زوی ناروغ دی اود ده مېرمن نه غوښتل چې هغه یوازې پرېږدي.

شمارش آرای انتخابات...

رایې ورکونې له بهیر څخه لیدنه کړې او د ببلابېلو درغلیو شاهدان دي. د فیفا افتخاري رییس نادر نادري ازادۍ راډیو ته وویل، چې دوی د درغلیو پر څېړلو بوخت دي، نوموړي وویل چې دوی به تر خپلو څېړنو وروسته راټول شوي اسناد خلکو، د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون او د انتخاباتو خپلواک کمېسیون ته وسپاري.
"ډېر ژر به په ټولو ولایتونو کې له ۷۰۰۰ څارونکو څخه مورږ ته شکایتونه راورسېږي. یو ډول عاجل معلومات دي، چې مورږ ته د برېښنالیک یا تیلېفون له لارې استول کېږي، چې پرون او ورمه ورځ استول شوي هم دي، دغه مورږ ټولوو او په اړه به یې نن د یو مطبوعاتي کنفرانس له لارې خلکو ته معلومات ورکړو، چې په کومو سیمو کې وو او عالمین یې څوک وو." د وړي میاشتې پر ۲۷ مه د شنبې په ورځ افغانانو د ولسي جرګې په انتخاباتو کې ګډون وکړ او د ولسي جرګې د ۲۴۹ استازو لپاره یې خپلې رایې ورکړې.
په دغو انتخاباتو کې، جعلي کارتونه او د رایې ورکونې پاڼې، تخنیکي ستونزې، د وسلوالو ډلو او ځینې دولتي کسانو لاس وهنه او امنیتي ګواښونو هغه ټکي وه چې خلکو او څارونکو ډلو یې په اړه شکایتونه وکړل. د افغانستان د سیاسي چارو یو تن څېړونکی محمد یونس فکور که څه هم د ولسي جرګې انتخابات یوه لاسته راوړنه بولي، خو وایي چې هغه رایې دې تشخیص او باطلې کړای شي چې په درغلیو سره په صندوقونو کې اچول شوي: د شنبې په ورځ د رایې ورکولو د بهیر له پای ته رسېدو سره سم د رایې شمېر نه هم پېل شوې ده، چې د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي لومړني نتایج به یې په نږدې راتلونکې کې معلوم شي.
د ازادي راډیو د راپور له مخې، د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون چارواکي هم د انتخاباتو په ځینو مواردو کې درغلۍ مني خو وایي تر خپله وسه به هڅه وکړي چې شوې درغلۍ تشخیص او په اړه یې لازم اقدامات وکړي.

یوه ولسوالي او درې...

نیول کېده.)) قره باغ او اندړ د غزني له هغو ناامنه سیمو څخه دي، چې طالبانو له وړاندې خلک په ټاکنو کې له ګډون څخه منع کړي وو. غزني اتلس ولسوالۍ لري، چې ناوه یې د طالبانو تر کنټرول لاندې ده او په ۱۳ نورو کې یې هم طالبان پراخ واک لري.
په قره باغ او اندړ و ولسوالیو کې، په داسې حال کې د رایو نه کارولو خبر ورکول کېږي، چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مشر فضل احمد معنوي ورمه ورځ په خبري غونډه کې وویل، چې ۴۰ سلنه خلکو خپله رایه کارولې ده.
د ولسي جرګې ټولټاکنې چې ورمه ورځ ترسره شوې، له غزني ولایت څخه د ۱۱ څوکیو لپاره ۸۳ کسانو ځانونه ورته کاندید کړي وو.

همایون عزیزي په پارلماني...

پرمخ لاړې شي."
په پارلماني چارو کې د دولت وزارت کابو نوی ارګان دی، چې په دې وروستیو کې د دولت په چوکاټ کې لومړی د یوې اداري او روسته د یوه وزارت په بڼه رامنځته شو.
دا وزارت نه یوازې دا چې د دولت او پارلمان ترمنځ چارې پرمخ وړي، بلکې د دولت د ټولو ارګانونو اجراییوي اړیکې له جمهوري ریاست سره ټینګوي.
په دې مناسبت په جوړې شوې ناسته کې د مشرانو جرګې رییس صبغت اله مجددي هیله وښوده، چې نوی وزیر د دولت او ملي شورا ترمنځ اړیکي لا پسې نیک او پراخ کړي، ده وویل: "خدای دې ده ته هم توفیق ورکړي، چې د پارلمان او دولت اړیکي ښه او پراخ کړي، د دواړو لورو اشتباګاني د قانون له مخې وڅېړي او په هکله یې اجراات وکړي." دازادي راډیو د راپور له مخې، افغان چارواکي هیله ښیي، چې د نوي ولسي جرګې اړیکې د نوي وزیر په راتګ له دولت سره، د پراخو همکاریو، یو نوي باب پرانیزي. پخوا تردې د دولت او پارلمان ترمنځ اړیکي کله نا کله د ځینو اجراتو په هکله پر ناندرو اوښتي.

کودکان قربانیان...

شمار معتادان را یک میلیون نفراعلام کرده اند.

بر بنیاد این سروی و به نقل از رابرت واتکنس معاون نمایندهٔ خاص سرمنشی ملل متحد در افغانستان از یک میلیون معتاد ۳ در صد آنان مردان بزرگسال و بقیهٔ شان را زنان و اطفال تشکیل می دهند. آمارها نشان می دهد که معتادان بین سنین ۱۵ تا ۶۴ سال بوده و در مجموع بیشترین اطفال و زنان معتاد به مواد مخدر(تریاک) در ولایات شمال افغانستان شناسایی شده اند.

در همین حال، مرغله خارا رییس بخش صحت وزارت امور زنان خاطر نشان می کند، زنانی که مجبور هستند، به انجام کارهای شاقه مانند قالین بافی بپردازند، برای خواباندن یا آرام کردن اطفال شان به آنان موادمخدر از جمله تریاک می خورانند.

اومی افزاید: زنانی که به کارهای شاقه مانند قالین بافی می پردازند، برای تحمل کردن فشار کار و ارایهٔ کار بهتر با استفاده از موادمخدر به ویژه تریاک روی می آورند. از سوی دیگر، به گفتهٔ داکتر محمدمعروف ثمر مسوول مرکز صحی تداوی معتادان ریاست صحت عامهٔ فاریاب در حال حاضر ۲۰ هزار معتاد به شمول ۲۰ درصد زن معتاد در این ولایت وجود دارد. رویهمرفته، شمار معتادان اعم از زنان، مردان و اطفال در حالی رو به افزایش می باشد که فقر اقتصادی، بی سوادی و عدم آگاهی از اضرار مواد مخدر در روستاها و از جانبی هم دسترسی سهل و ساده به موادمخدر، کمبود مراکز تداوی و درمان، از جملهٔ چالش های فراراه مبارزه با این پدیده هنوز هم با قوت خود در جامعه وجود دارد.

لاوختي دی چې د ولسي جرګې...

ملګرملتودا انتخابات ستایلي. دوی ویلي چې افغانانو په داسې حال کې چې طالبانو د مرګ ګواښونه ورته کول، جرات وکړ چې د رایو صندوقونو ته لاړ شي او خپلې رایې استعمال کړي.
د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، د ازادو او عادلانه انتخاباتو ټولنې (فیفا)، چې اووه زره څارونکو یې دا انتخابات څارل، ویلي چې په انتخاباتو کې زیاتې درغلۍ او بې قاعدګۍ لیدل شوي چې ډېرې یې د دغو انتخاباتو مشروعیت ترپوښتنې لاندې راولي. فیفا وایي دوی د انتخاباتو د کیفیت په اړه جدي اندېښنې لري.

۱۰ کشته و چندین مجروح...

ولایت ننگرهار صورت گرفته است.

از سوی دیگر، این شبکه اعلام کرد که سه سرباز خارجی بنا بر ادعای ناتو در یک حادثه کشته شده‌اند. در حملهٔ راکتی دیروز مخالفان در ولایت "غزنی " دست‌کم یک نفر کشته و ۸ نفر دیگر نیز زخمی شدند.

این حادثه ساعت ۷:۳۰ صبح به وقت محلی در ولسوالی "اجرستان " اتفاق افتاد که بر اثر آن یک غیرنظامی کشته و ۸ نفر دیگر نیز زخمی شدند. روز گذشته و همزمان با برگزاری انتخابات پارلمانی در افغانستان، در عملیات نظامی یی که صورت گرفته، در سراسر کشور دست‌کم ۸۰ تن به شمول مخالفان، نیروهای دولتی و مردم ملکی کشته شدند. انتخابات پارلمانی روز گذشته در میان تدابیر امنیتی بسیار شدید در حوزه‌های اخذ آرا در سراسر کشور برگزار شد، زیرا طالبان تهدید کرده بودند که این انتخابات را مختل می کنند.

آیا دومین انتخابات...

حکومت در گفتگو با رسانه ها، از نحوهٔ برگزاری انتخابات اظهار رضایت کردند و بر برگزاری موفقانهٔ این پروسه، مهر تأیید زدند. مقام‌های دیپلوماتیک اتحادیهٔ اروپا وامریکا هم بر موفق برگزار شدن انتخابات تاکیدنمودند، اما استیفان دمیستورا نمایندهٔ خاص سازمان ملل متحد در افغانستان به بی بی سی گفته است: "هنوز زود است که انتخابات را موفقیت آمیز بدانیم."

به نظر می رسد که با توجه به واقعیت های عینی کشور، این دیدگاه آقای دمیستورا بیشتر قرین به واقعیت است و از آنجایی که هنوز هم نتایج دومین انتخابات پارلمانی افغانستان معلوم نیست نمی توان، با قاطعیت آن را موفق و یا ناکام ارزیابی کرد.

موفقیت این پروسه بستگی به نتایج آن دارد. بادرنظرداشت کمپاین انتخابات و روز برگزاری آن که با کدام موانع جدی رو به رو نشد، می شود بر نتایج آن هم باورمند بود، اما باید منتظر ماند، تا نتایج نهایی انتخابات اعلام شود و آنچه که در روز برگزاری انتخابات صورت گرفته، به درستی واضح گردد؛ در غیر آن، هر نوع قضاوت مبنی بر کامیابی و یا ناکامی این فرایند دموکراتیک ناقص می باشد که تأثیر مخربی بر پارلمان آینده و جایگاه انتخابات در کشور خواهد داشت، چیزی که به نفع افغانستان نیست و کشور را با بحران های جدید و جدی مواجه می سازد.

د افغانستان له لارې د ترکمنستان د ګازو د پایپ لاین ټرون لاسلیک کېږي

امریکا ته د ولسمشر کرزي د سفر او په نیویارک کې د ترکمنستان له ولسمشر سره د خبرو په درشل کې د افغانستان د کانونو وزیر وحیدالله شهراني د افغانستان له لارې هند او پاکستان ته د ترکمنستان د ګازو د پایپ لاین د غځولو ټرون د لاسلیکولو لپاره عشق اباد ته رسېدلی دی. ورمه ورځ او پرون په عشق اباد کې د افغانستان،



ترکمنستان، پاکستان او هندوستان د کاري ډلې تخنیکي کارپوهانو خبرې وکړې چې د وزیرانو ترمنځ د ټرون د لاسلیکولو لپاره په خپل منځ کې ټول اړوند مسایل حل کړي. دوی به د تخنیکي سلا مشورو په ترڅ کې یوه مسوده جوړه او څارونکې کمېټې ته وړاندې کړي. د کانونو وزارت له یوې خبرپاڼې سره سم ښاغلی شهراني به دا ټرون نن د ترکمنستان، پاکستان اوهندوستان د کانونو له وزیرانوسره په یوه غونډه کې په عشق آباد کې لاسلیک کړي. تردې وړاندې د افغانستان، پاکستان، هندوستان او ترکمنستان چارواکو په دې اړه څو ځلې غونډې کړې دي. د افغانستان او ترکمنستان ولسمشرانو د اګست په څلرویشتمه په دې موضوع ټېلیفوني خبرې وکړې او سلا یې وکړه، چې د روان سپټمبر په وروستیو لسو ورځو کې په نیویارک کې د ملګرو ملتو د عمومي اسمبلۍ د غونډې په څنګ کې سره ووینې او په دې هکله به وږغېږي. ټاکل شوې ده چې دا مسوده د روان میلادي کال په پای کې د ټپي یا د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګازو د پایپ لاین د غړیو هېوادونو مشران لاسلیک کړي. د څلورو هېوادونو مشران به په دسمبر کې د ترکمنستان په مرکز عشق اباد کې غونډه وکړي. د ایتارتاس خبري اژانس د راپور له مخې، د افغانستان او پاکستان ولسمشرانو او د هند صدراعظم موافقه کړې چې په دې غونډه کې په خپله ګډون وکړي. همداراز په پام کې ده چې د ملګرملتو د عمومي اسمبلۍ د راتلونکې غونډې په څنګ کې د افغانستان او ترکمنستان ولسمشران په نیویارک کې د دې پروژې په باب خبرې وکړي. دوی په وروستیو کې په دې باب په ټېلیفوني خبرو کې موافقې ته رسېدلي وو. په دې پروژې له پنځلس کلونو راهیسې خبرې کېږي. د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، د ټپي (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هندوستان) څارونکې کمېټه د ۲۰۰۸ ع کال په اپریل کې په اسلام اباد کې جوړه شوه او راروانه غونډه به د هغې لسمه غونډه وي. دوی پر یوه څلور اړخیز کاري چوکاټ سلا وکړه چې له مخې یې باید له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هندوستان ته د ګازو د پایپ لاین د جوړېدو کار په ۲۰۱۰ کال کې پیل کېږي. د دې نللیکې د جوړولو لګښت هماغه وخت اووه ملیارده او اووه سوه ملیون ډالره اټکل شوی و. د څلورو هېوادونواستازو پر دې هم موافقه کړې چې د پایپ لاین د تخنیکي چارو لپاره یوکنسورشیم جوړ کړي. اسیایي پراختیایي بانک به د دې پروژې په مالي برخه کې کلیدي رول ولوبوي. د دې نللیکې له لارې، چې د ترکمنستان د دولت اباد ګاز به پاکستان او هند ته ولېږدوي، د ګازو انتقال به په ۲۰۱۵ کې پیل شي.

کـــودکـــان قربـــانیان خـــاموش!

خپلواک

جنـگ در افغانـستان همچنـان ادامه دارد، این جنگ با گذشت هر روز خونین تـر مـی شـود، روزی نیست که انفجار، انتحار و بمباردمانی صـورت نگیـرد، قربانی این همه نابسامانی هـا و خـشونت هـا، بیـشتر افـراد بیگناه ملکی هستند، به اسـاس آمار تازه منتشر شدهٔ سـازمان ملل متحد که بـه تـازه گـی بـه دسـترس رسـانه قـرار گرفتـه است، تنها طی نه مـاه گذشـتهٔ میلادی، بیش از ۱۵۰۰ تن افراد ملکـی قربـانی خـشونت هـای جـاری در افغانـستان گردیـده اند، چیـزی کـه در مقایسهٔ بـا ارقـام سـال گذشـته در مـدت مشابه، افزایش ۲۵ درصـدی را به نمایش می گذارد. ایـن آمـار همچنان خاطر نشان مـی کنـد، کـه در جریـان سـال روان در تلفـات کودکـان و زنـان نیـز افـزایش چـشمگیری قابـل مشاهده است، چنانکه بر پایهٔ این آمار، در این مدت، از جملـه ۱۵۰۰ تن تلفات ملکی، در حدود ۳۰۰ تـن آنـان را کودکـان، نوجوانان و زنان تـشکیل مـی دهنـد، آمـاری کـه در مقایسهٔ سـال گذشـته کـه ۱۷۳ تـن در زمان مشابه بود، افزایش قابـل ملاحظه یی را نشان می دهد.

به حال این در حـالی اسـت کـه تلفات ملکی و کـشتار کودکـان همچنـان در افغانـستان ادامـه دارد، روز گذشـته رسـانه هـا خبر دادند که ۶ تن از اطفـال در انفجاری در ولایـت کنـدز جـان دادند. به گزارش شبکهٔ اطـلاع رسانی، این حادثـه دیـروز، در منطقهٔ رمضانی ولسوالی علـی آباد کندز، زمانی رخ داد که یک ماین، در زمان بـازی اطفـال بـا آن، انفجار کرد.

در همـین حـال، محبـوب الله سعیدی، سخنگوی والـی کنـدز در این مورد می گوید، این ماین به تازه گـی از سـوی مخالفـان جابجا شده بود.

ایـن در حـالی اسـت کـه مسوولیت جابه جا سازی ایـن ماین را تا هنـوز هـیچ فـرد یـا گروهی برعهده نگرفته است.

به هـر صـورت، وقـوع چنـین رویدادهایی نشان می دهد کـه کودکـان معـصوم هـم از شـر خـشونت هـای جـاری در افغانستان در امان نبوده و این روند در کشور همچنان در حال افزایش است و طرف درگیر به منظور دست یافتن بـه اهـداف شان، حتا به کودکـان معـصوم هم رحم نکرده و آنـان را آمـاج حملات شان قرار می دهند.

اطفـال قربـانی کارهـای شـاقهٔ مادران: این تنهـا خـشونت هـا نیست که بر کودکان رحـم روا نداشته و از آنـان قربـانی مـی گیرد، جامعهٔ ما و فرهنگ حـاکم در آن نیز، کودکـان را خـورد و خمیر سـاخته اسـت، بـر پایـهٔ گزارش های رسانه ها، شماری از زنان که بـه حرفـه هـای بـا فنده گی، اشتغال در زراعـت و کارهـای شـاقه مبـادرت مـی ورزند، به هدف رفـع خـستگی، اغلب خود و اطفال شـان را بـا خوردن تریاک عادت می دهند.

به بـاور کارشناسـان مـصرف تریاک در مراحل ابتدایی بـرای انسان آرامش نسبی داده و در صـورت اسـتفادهٔ مـداوم بـه اعتیاد انجامیده و فرد معتاد را از نظر عقلی و ذهنی ضعیف و ناتوان می سازد.

این زنان که بیشتر در ولایـات بدخشان، کندز، بغلان، فاریاب، جوزجـان، بلـخ و هـرات مصروف قالین بافی می باشند، نه تنها خود شان به خاطری که در وقـت قـالین بـافی، آرامـش ذهنـی پیـدا کننـد، معتـاد بـه تریاک شده، بلکه به خاطری که کار بیـشتر نماینـد، بـه اطفـال خود نیز تریاک می خورانند، تا آرام باشند و مـزاحم کـار آنهـا نـشوند. از سـوی دیگـر، مسوولان صحی و آگاهان امور به این نظر اند که نبود و یا هم دوری مراکز صحی در روسـتا ها سبب شده که زنان خانواده ها بـدون دسترسـی بـه دوا و داکتر، خود و اطفال شان را بـا خوراننـدن تریـاک آرامـش بخـشند. سـعدیهٔ ۴۰ سـاله باشـندهٔ ولـسوالی شـغنان بدخشان در این مورد مـی گویـد که در ولسوالی آنها سابق دوا و داکتر نبود و مادران برای اطفـال شیرخوار خـود بـه خـاطری کـه آرام شوند و گریه نکنند، تریـاک می خوراندند.

وی می افزاید: ((در یک سـالگی بچیم بسیار گریان مـی کـرد و مـره بـه تنـگ کـرده بـود، اول برایش د "گوتی" (مخلوطی از جوانی و بادیان، ادویهٔ یونانی)، تریاک خلط مـی کـردم، مگـر آرام نمی شد، باز تریاک خالص را بـرایش مـی دادم وآرام مـی شد وخو می کرد.))

این زن اضافه می کنـد؛ زمـانی کـه پـسرش از حالـت کـودکی برآمـد، بـدون اینکـه پـدر و مـادرش آگـاه باشـند، بـا همسالانش بیرون از منـزل بـه تریاک عادت کرد .

سعدیه می گویـد کـه پـسر ۱۳ ساله اش فقط تا صنف چهـارم مکتب خوانده، آنهم که در خلال این مدت به گفتهٔ خودش بارهـا دیده که فرزندش؛ قلم و کتابچهٔ مکتب و لوازم منزل را به خاطر خریدن تریاک فروخته و تریاک خریده است.

این خانم که پـسر معتـادش را بـــه مرکـــز تـــداوی معتادان "ودان" به شهر فـیض آباد مرکز بدخشان داخل بستر نموده است، حالا افـسوس مـی خورد که خودش موجب اعتیاد فرزندش شده و ایـن نوجـوان پـس از معتـاد شـدن، دیگـر نتوانـست، علـم بیـاموزد و از مکتب بازمانده است.

با آنهم سعدیه بسیار خرسـند است که داکتران بـرایش گفتـه

انـد که پسرش به تـدریج تریاک را ترک خواهد کرد.

داکتـر احمـد وحیـد موظـف در مرکز تداوی معتادان فـیض آبـاد می گوید که در ظرف شـش مـاه اخیـر بـیش از یـک صـد معتـاد معالجه شده کـه زنـان و اطفـال نیز، شامل آنها می باشند.

از سوی دیگر، عبدالجمیل هدفمند رییس مبـارزه بـا مـواد مخـدر بدخشان می گوید: سروی یی که امسال انجام یافته، می رساند که ۳۰ هـزار معتـاد در ایـن ولایـت وجود دارند و از این رقـم شـمار بیـشتر شـان را زنـان و اطفـال تشکیل می دهند.

او افـزود کـه امـسال بـه خـاطر تـداوی زنـان و اطفـال معتـاد، کلینیک صـحی ۳۵ بـستره را در ولسوالی بهارک ایجاد کرده اند و هم اکنـون ۳۵ طفـل و زن معتـاد تحت معالجه قرار دارند.

پروین رحیمی رییس حمایت و انکـشاف حقـوق زنـان در کمیسیون ساحوی حقـوق بـشر، علـت اساسـی اعتیـاد زنـان در ولایات شمال را از آغاز طفولیـت عنوان نموده، می گوید که زنـان در این ولایات، عمـدتا بـه قـالین بافی و کشت و زراعـت اشـتغال دارند، به همین خاطر، با استفاده از مواد مخدر سعی می کننـد کـه اطفال شان را با خوراندن تریـاک آرام نگه دارند.

او مـی افزایـد؛ مـادران بـه دلیـل اینکه اطفـال مزاحمتـی در موقـع کار برای آنان ایجـاد نکننـد، بـه آنها تریاک می خوراننـد و ایـن روند آهسته آهسته کودک را بـه تریاک معتاد ساخته و زمانی کـه به سن بلوغ می رسد، ناخودآگاه به تریاک روآورده واین سلـسله نسل به نسل تـداوم مـی داشـته باشد. این درحالی است، سـروی تازه یی که از سوی دفترسازمان مبارزه با جرایم و موادمخدر ملل متحد و وزارت هـای مبـارزه بـا موادمخـدر و صـحت عامـه در سراسر کشور انجام شـده ص۳

کنوانـسیون حـقوق اطفال

یوویشتمه ماده: په هغه هیواد کې چې د ماشوم فرزندي اخیستل قانوني دي، دولت باید یوازې د ماشوم ګټه د فرزندي اخیستو پر مهال په پام کې ولري.

مادهٔ بیست ویکم : در کشوری که فرزند خواندگی در آن قانونی است، باید دولت تنها فایدهٔ طفل را در فرزند خواندگی در نظر بگیرد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی ارادهٔ
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل " احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com